شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

نبي کريم (ص) خپل اُمت ته د پنځو څيزونو سپارښتنه کړې:
نبي کريم (ص) فرمايلي: زه تاسو ته د پنځو شيانو امر کوم، چي د هغه حکم زما رب ماته کړی دئ؛ د خپل امير اطاعت کوئ او د هغه خبره اورئ، عمل په کوئ، د جماعت سره ملګري کېږئ، هجرت کوئ او جهاد کوئ. [ترمذي شريف]
نبي کريم(ص) به امت خود پنج چيز را توصيه کرده است:
نبي کريم(ص) فرمود: من براى شما آن پنج چيز را امر ميکنم، که آن را رب من برايم حکم کرده است؛ از امير خويش اطاعت کنيد، سخنان او را شنيده و بالايش عمل کنيد، با جماعت يکجا شويد، هجرت و جهاد کنيد. [ترمذي شريف]
(د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

د ماليې وزارت

پنجشنبه | د جمادي الأول ۲۴-۱۴۴۵ / د ليندۍ ۱۶-۱۴۰۲ / ډيسمبر ۷-۲۰۲۳ /دوهم کال / ۷۷ ګڼه/ ٤ مخيز


## سرمقاله

### نقش تکنالوژی در رشد اقتصاد نوین

تکنالوژی عنصر کلیدی در رشد اقتصاد نوین بوده که تأثير عمده‌ای بر اقتصاد جهانی داشته است. از زمان پیدایش اینترنت و پیشرفت فناوری‌های ارتباطی، تکنالوژی به طور نمایان‌تری در زندگی ما حضور یافته است که در تمام جوانب اقتصادی تأثیرگذار بوده است. تاثیرات مثبت تکنالوژي در رشد اقتصادی میتوانیم قرار ذیل شرح دهیم:
افزایش مثمریت: تکنالوژی می‌تواند بهبود قابل توجهی در مثمریت و کارایی تولید و عملیات اقتصادی به ارمغان بیاورد. از طریق استفاده از خودکارسازی، رباتیک، هوش مصنوعی و سیستم‌های اطلاعاتی پیشرفته، فرآیندهای تولید و خدمات بهبود می‌یابند و هزینه‌ها و زمان تولید کاهش می‌یابند.
ایجاد شرایط برای نوآوری: تکنالوژی و ارتباطات پیشرفته، زمینه ساز فراهم کردن شرایط مناسب برای نوآوری و تحقیقات و توسعه است. این امکان را فراهم می کند که افکار جدید و نوآورانه به سرعت پخش شوند و باعث ایجاد صنایع جدید و ارزش افزایی بیشتر شود.
ایجاد رقابت و کار آفرینی: تکنالوژی میتواند رقابت را در بازارها تقویت دهد و با ایجاد فناوری و محصولات جدید، رقابت میان شرکت‌ها را افزایش دهد. این رقابت منجر به افزایش بازار و ایجاد فرصت‌های شغلی در صنایع جدید و نوظهور می‌شود.
تغییر ساختار اقتصاد: تکنالوژی میتواند تغییرات اساسی در ساختار اقتصادی به ارمغان بیاورد. به عنوان مثال، با پیشرفت تکنولوژی ارتباطات، اقتصادها به سمت اقتصادهای دیجیتالی و مبتنی بر داده‌ها جابجا شده‌اند. این تحول سبب افزایش تجارت الکترونیک، ارائه خدمات آنلاین و تغییر در روش‌های معاملات تجارتی میشود.
تسهیل تجارت بین‌المللی: تکنولوژی ارتباطات بیشتر، حرکت اطلاعات و سرمایه را به سرعت و با کمترین هزینه ممکن مهیا می‌کند. این امکان را فراهم می‌کند که شرکت‌ها به راحتی بازارهای جهانی را برای صادرات و واردات بهره‌برداری کنند و به تبادل تجارت بین‌المللی رونق بخشند. این تسهیلات تجاری واردات و صادرات را افزایش می‌دهد و بازارهای جدید برای کالاها و خدمات را باز می‌کند.
خوشبختانه باید گفت که در حال حاضر رهبری امارت اسلامی افغانستان تلاش ورزیده تا تسهیلات بیشتر را برای رشد تکنالوژی مهیا نموده تا توانسته باشیم به رشد اقتصادی نوین برسیم.
قابل ذکر است که در برخی مورد در دوایر دولتی تا حدی زیادی بیوکراسی محو گردیده، استفاده از تکنالوژی بیشتر شده که این امر باعث سرعت و شفافیت در امور گردیده است.
در کل، تکنالوژی نقش بسیار مهمی در رشد اقتصاد نوین ایفا می‌کند. با توجه به پیشرفت دایمی تکنالوژی، می توان انتظار داشت که نقش آن در اقتصاد نوین در آینده به میزان بیشتری افزایش یابد.

**با احترام**

**اداره**

## د ماليې وزارت د اداري او پاليسي معينيتونو لپاره نوي معينان معرفي سول



د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) د حکم پر بنسټ د ماليې وزارت د اداري او پاليسي معينيتونو لپاره نوي معينان، د چارو اداري د امارتي چارو د انسجام د مرستيال، محترم مولوي سيف الدين تائب له لوري، د ماليې د وزير محترم الحاج ملا محمد ناصر اخوند او يو شمېر نورو لوړ پوړو مسؤلينو په حضور کي، په رسمي توګه معرفي سول.
الحاج انجنير سلطان محمد زبير، چي له دې وړاندي ئې د ماليې وزارت د دفتر د لوی رئيس په توګه دنده ترسره کوله، د پاليسۍ د معين په توګه، او مفتي عبدالصمد حقاني، چي له دې وړاندي د حقوقي مجلس رئيس وو، د اداري معين په توګه معرفي سول.
په همدې تړاو د ماليې وزارت په خيبر سالون کي جوړه سوې غونډه د قرآن عظيم الشان د څو مبارکو اياتونو په تلاوت سره پيل سوه او وروسته د چارو اداري د امارتي ادارو د انسجام مرستيال ښاغلي مولوي سيف الدين تائب خبري وکړې او وئې ويل؛ چي د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) د حکم پر بنسټ د ماليې وزرات دوه رئيسان، چي د ښې کاري تجربې څخه برخمن دي، د دې وزارت د اداري او پاليسۍ چارو د معينانو په توګه وګومارل سول. ښاغلي تائب څرګنده کړه، چي په نظام کي ټولي پرېکړې د لازم لزوم ديد، اداري مصلحتونو پر بنسټ، په پوره دقت او بشپړ استقلاليت سره د نظام او ولس په خير ترسره کېږي.
د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخوند وويل؛ چي مسؤليت امتياز نه؛ بلکي يو درونډ بار دئ، چي د خوشحالېدو پر ځای ئې بايد په ښه توګه د پرمخ وړلو له پاره له الله(ج) څخه مرسته وغوښتل سي.
محترم ملا محمد ناصر اخوند زياته کړه، چي د ماليې وزارت (۱) ميليون او (۴۵) زره هيوادوالو ته معاشونه اجرأ کوي، چي دا يو درونډ مسؤليت دئ، چي ټول کارکوونکي بايد خپلي دندي په پوره اخلاص او امانتدارۍ سره مخته يوسي، تر څو هم د ولس او هم د الله تعالی د رضايت سبب وګرځي.
د ماليې وزارت پخواني اداري معين مولوي حمدالله زاهد په ادارو کي د اشخاصو بدلونونه د يوې با ثباته اداري په رامنځته کولو کي مهم وبلل او تر څنګ ئې د مسؤلينو له لوري د شخصي ګټو پر ځای ملي ګټو ته په لومړيتوب ورکولو ټينګار وکړ. ښاغلي زاهد څرګنده کړه، چي د يو کشر په حيث به د نويو مسؤلينو سره په اړونده برخه کي هر وخت، په پوره اخلاص سره همکارۍ ته تيار وي.
د ماليې وزارت د پاليسۍ نوي معين الحاج انجنير سلطان محمد زبير د اسلامي امارت له رهبرۍ څخه د سپارل سوي مسؤليت له امله د منني ترڅنګ وويل، چي د پاليسۍ د معين په توګه ټاکل ورته امتياز نه؛ بلکی درونډ مسؤليت دئ، ښاغلي زبير ټينګار وکړ، چي په ټول قوت او اخلاص سره به هڅه کوي، چي ور سپارل سوی مسؤليت په ښه ډول مخته يوسي او په دې برخه کي د ټولو مسؤلينو او تخنيکي کارکوونکو څخه په اخلاص سره د مثبتو نظرونو شريکولو، ملاتړ او همکارۍ غوښتونکی سو.
نوموړي همدا راز يادونه وکړه، چي د پاليسۍ د معين په توګه به ئې د لومړيتوبونو څخه دا وي، چي له ټولو سکټوري وزارتونو سره د څرګندي پاليسۍ توازون را منځته کړي او په دې برخه کي به ضروري اقدامات ترسره کوي.
د اداري معينيت لپاره ټاکل سوي معين مفتي عبدالصمد حقاني، په نظام کي د ماليې وزارت د لوړ اهميت د بيانولو تر څنګ وويل، چي په اداره کي د اشخاصو بدلون يو اصل دئ، چي دا اصل د ادارو د لا پرمختګ سبب ګرځي.
ښاغلی حقاني زياته کړه، چي سپارل سوی مسوليت به په پوره امانتدارۍ سره مخ ته وړي او له ټولو مسؤلينو څخه ئي په دې برخه کي د ملاتړ او رغنده همکارۍ غوښتنه وکړه.
غونډه د الميپک د ملي کمېټې د رئيس محترم مولوي احمد الله وثيق له لوري د دعايې په لوستلو سره پای ته ورسېده.

## د روان مالي کال د تعرفي کمېټې د څلورمي ناستي پرېکړي د ماليې وزارت مقام له لوري منظور سوې




د تعرفې کمېټې د څلورمي ناستي پرېکړي د ماليې وزارت مقام له لوري منظور سوې. د تعرفې د کمېټې په دغه ناسته کي د کورني توليد څخه د ملاتړ، د سوداګرۍ او د دولتي عوايدو اصل ته په کتو سره لاندي پرېکړې سوې دي:
۱ - په بوجيو کي د را ورېدونکو وچو شيدو ګمرکي تعرفه له (۵ سلني څخه ۸ سلني) ته لوړه سوه، چي د روان کال د مرغومي (جدي) مياشتي په (۵) مه نېټه د هيواد په ټولو ګمرکونو کي د پلي کېدو وړ ده.
۲ - د تعميراتي رنګ ګمرکي تعرفه له (٦.۵ سلني څخه ۱۰ سلني) ته لوړه سوه، چي د روان کال د مرغومي (جدي) مياشتي په (۵) مه نېټه د هيواد په ټولو ګمرکونو کي د پلي کېدو وړ ده.
۳ – د پلاستيکي يو ځل مصرف لوښو ګمرکي تعرفه له (۳۰ سلني څخه ۴۰ سلني) ته لوړه سوه، چي د روان کال د مرغومي (جدي) مياشتي په (۵) مه نېټه د هيواد په ټولو ګمرکونو کي د پلي کېدو وړ ده.
۴- د قالينو، موکتونو او نورو فرشونو ګمرکي تعرفه له (۲۵سلني څخه ۳۰ سلني) ته لوړه سوه، چي د روان کال د مرغومي (جدي) مياشتي په (۵) مه نېټه د هيواد په ټولو ګمرکونو کي د پلي کېدو وړ ده.
۵- د لرګيو او ډبرو سکرو لپاره د جوړو ترکي بخاريو ګمرکي تعرفه له (۲.۵ سلني څخه ۱۰ سلني) ته لوړه سوه، چي د روان کال د مرغومي (جدي) مياشتي په (۵) مه نېټه د هيواد په ټولو ګمرکونو کي د پلي کېدو وړ ده.
٦- د تريشر ماشينونو ګمرکي تعرفه له (۱۰ سلني څخه ۱٦ سلني) ته لوړه سوه، چي د روان کال د مرغومي (جدي) مياشتي په (۵) مه نېټه د هيواد په ټولو ګمرکونو کي د پلي کېدو وړ ده.
۷- د مالټو وارداتي ګمرکي تعرفه له (۲۰ سلني څخه ۳۰ سلني) ته لوړه سوه، چي د روان کال د مرغومي (جدي) مياشتي په (۵) مه نېټه د هيواد په ټولو ګمرکونو کي د پلي کېدو وړ ده. همداشان د کينو موسمي تعرفه، چي پخوا (۳۰) سلنه او د مالټې (۲۰) سلنه وه او معياد ئې د ليندۍ مياشتي له لومړۍ نېټې څخه د کب تر (۳۰) مي نېټې پورې ټاکل سوی، چي د دواړو يادو ميوو ګمرکي موسمي تعرفه (۴۰) سلني ته لوړه سوه، او اوس مهال د هيواد په ټولو ګمرکونو کي د پلي کېدو وړ ده.
۸- د مصنوعي پنبې ګمرکي تعرفه له (۲.۵ سلني څخه ۸ سلني) ته لوړه سوه، چي د روان کال د مرغومي (جدي) مياشتي په (۵) مه نېټه د هيواد په ټولو ګمرکونو کي د پلي کېدو وړ ده. همدارنګه د مصنوعي او طبيعي پنبې موسمي ګمرکي تعرفه، چي معياد ئې د تلې مياشتي له (۱۵) مي نېټې څخه د لړم مياشتي تر (۲۹) مي نېټې پورې دئ له (۸ سلني څخه ۱٦ سلني) ته لوړه سوه.



د ګمرکونو او عوايدو معين د پرزو واردوونکو سوداګرو ستونزي واورېدې
م ۲



د ګمرکونو کارکوونکو ته د تعرفې وضع کولو او بيي ايښودني په تړاو روزنيز پروګرام جوړ سو
م ۲



د ماليې وزارت د معلوماتي او ارتباطي ټکنالوژۍ (IT) رياست لابراتوار معياري سو
م ۲




د سوېل لوېديځ زون د مستوفيتونو مالي برخي کارکوونکو ته انلاين روزنيز پروګرام جوړ سو
م ۲



نگاهی بر سرمایه های فکری یک سازمان
م ۳




MoF Introduces Deputy Ministers of DM for Administration, DM for Policy
م ٤

شتمني SHTAMANI اوونیزه

## د ګمرکونو او عوایدو معین د پرزو واردوونکو سوداګرو ستونزي واورېدې



د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین ښاغلي ملا عبدالقاهر «ادریس» د پرزو واردوونکو شرکتونو د ټولني له رئیس ښاغلي حاجي نصرالله «موحد» او د دې ټولني له یو شمېر غړو سره وکتل.

په دې کتنه کې د پرزو واردوونکو شرکتونو د ټولنې رئیس د هیواد په ګمرکونو، لویو لارو او په ګاونډیو هیوادونو کې د شته ستونزو یادونه وکړه او د ګمرکونو او عوایدو له معین څخه ئې وغوښتل، چې یادو ستونزو ته رسېدنه وکړي.

د ګمرکونو او عوایدو معین دوی ته د هر اړخیزي همکارۍ ډاډ ورکړ او زیاته ئې کړه، چې شته امکاناتو او اصولو ته په کتو سره به ستاسو ستونزو ته رسېدنه وسي.

## د ګمرکونو کارکوونکو ته د تعرفې وضع کولو او بیې ایښودني په تړاو روزنیز پروګرام جوړ سو

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د دغه وزارت د بشري سرچینو له ریاست سره په همغږۍ د ګمرکونو کارکوونکو ته د بررسۍ د پروسې، د تعرفې د وضع کولو او بیې ایښودني په اړه روزنیز پروګرام جوړ کړ.

په دغو مراسمو کې، چې په همدې موخه د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د کنفرانسونو په تالار کې جوړه سوې وه، د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید، د بشري سرچینو د روزني او ظرفیت لوړوني آمر محمد نادر همایون او د مالیې وزارت یو شمېر نورو مسؤلینو ګډون کړی وو.

د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید د دغه پروګرام په پرانیستې وینا کې وویل: «اوسمهال ګمرکونه د نظام بشپړ ضعف او پیاوړتیا ګڼل کېږي او له داخلي ظرفیتونو څخه په استفادې ئې پیاوړتیا او پراختیا خورا مهمه ده. له تاسي څخه په جدي توګه غواړم، چې له دې پروګرام څخه په استفادې سره خپله وړتیا زیاته کړئ او هغه څه چې زده کوئ، د دې سپېڅلي اسلامي نظام د پرمختګ لپاره ئې وکاروئ.


هغه زیاته کړه، خپل اړوند کارونه په احسن ډول پرمخ یوسئ، حلال او حرامو ته پام کوئ او د رسول الله (ص) په لارښودونو عمل وکړئ.

د بشري سرچینو ریاست د روزني او ظرفیت لوړوني آمر محمد نادر "همایون" په خپلو خبرو کې وویل، چې د بشري سرچینو ریاست مسؤلیت دا دئ، چې د مالیې وزارت اړوندو شعبو ته مسلکي او ژمن کسان جذب او معرفي کړي. نوموړي له ګډونوالو وغوښتل، چې د بیت المال په پیسو چمتو سوو درسونو، اسانتیاوو او امکاناتو څخه د خپلي مسلکي پوهې د لوړولو په برخه کې اعظمي ګټه پورته کړي او هیڅ ډول غفلت و نه کړي.



د یادوني وړ ده، چې دا پروګرام به دوې اوونۍ دوام وکړي او ګډونوالو ته به پکښې د بررسۍ د تشریح پروسې څرنګوالی، د تعرفې وضع کول او بیه ایښودنه تشریح سي.

## د مالیې وزارت د معلوماتي او ارتباطي ټکنالوژۍ (IT) ریاست لابراتوار معیاري سو



د مالیې وزارت د معلوماتي او ارتباطي ټکنالوژۍ ریاست د (۱.۱) میلیون افغانیو په لګښت د عصري لابراتوار، چې درې جلا ځانګې د پوستغالي (سافټویر) او سختغالي (هارډویر) آمریت، د ترمیماتو ځانګه او حمایوي ځانګه لري، په مجهز او معیاري ډول د دغې ادارې د کارکوونکو لپاره د مناسبي کاري فضا په درلودلو سره جوړ او ګټې اخیستني ته وسپارل سو.

مناسب او د کار معیاري چاپېریال د دې ریاست د لابراتوار کارکوونکو لپاره ګڼې اسانتیاوې برابرې کړي دي، چې هغوی کولای سي، خپلي اړوندي دندي په منسجم ډول او بشپړې آرامۍ ترسره کړي.

دا په داسي حال کي ده، چې تر دې وړاندي د دغې ځانګي چارې په معیاري او اساسي ډول نه وې او کله ناکله له ستونزو سره مخ کېدې، چې له دې وروسته به د یادي ادارې ستونزي هواري سي.

## د عوایدو لوی ریاست له لوري ۴۵ تنو مالیاتي محاسبینو ته د فعالیت جوازونه ووېشل سول

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست تخنیکي مرستیال ښاغلي عبدالولي نوري او د حقوقي خدمتونو او د عوایدو د پالیسۍ رئیس مولوي نداء محمد صدیقي په حضور کي د یوې غونډې په ترځ کي د مالیاتي محاسبینو د فعالیت جواز ورکړې په ازموینه کي (۴۵) تنو بریالیو کسانو ته د فعالیت جوازونه ورکړل سول.

د عوایدو لوی ریاست د حقوقي خدمتونو او د عوایدو د پالیسۍ ریاست له لوري د مالیاتي محاسبینو د فعالیت جوازونو د ورکړې په اوومي دورې ازموینه کي، چي (۱۸۱) تنو ګډون کړی وو، له دې ډلې څخه ئې (۴۵) تنه بریالي سوي ول، چي د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معینیت د غونډو په تالار کي د یوې ځانګړې غونډې په ترځ کي بریالیو مالیاتي محاسبینو ته د فعالیت جوازونه ووېشل سول.

د عوایدو لوی ریاست مسؤلینو مالیاتي محاسبینو ته د فعالیت د جوازونو وېش څخه موخه د شفافیت رامنځته کول، مالیاتي عامه پوهاوی دودول، مالیاتي اطاعت پذیرۍ پراخول، مالیه ورکوونکو ته په مالیاتي چارو کي آسانتیاوي رامنځته کول او له مالیاتي تېښتي څخه مخنیوی وباله.

## یک بخش مهم شرکت دولتی افغان طیور در زون شرق کشور افتتاح گردید

فعالیت اساسی شرکت دولتی افغان طیور برای نخستین بار پس از سه دهه دوباره آغاز گردیده است که یک بخش مهم فعالیت های این شرکت طی مراسمی با اشتراک عبدالحمید آخند زاده، رئیس عمومی شرکت های دولتی و مسئولین ذیربط در زون مشرقی کشور افتتاح گردید.

محترم آخندزاده، رئیس عمومی شرکت های دولتی در مراسم افتتاح این شرکت گفت که هیئت رهبری ریاست عمومی شرکت های دولتی در همکاری و هماهنگی رهبری وزارت مالیه مصمم است تا تمام شرکت های دولتی را به صورت تدریجی دوباره فعال نماید و آنرا به عنوان یکی از چشمه های عایداتی جدید برای تقویه بودجه ملی کشور مبدل سازد. وی علاوه کرد خرسندم که به سلسله احیای شرکت های دولتی امروز یک بخش مهم فعالیت های اساسی شرکت دولتی افغان طیور را در زون مشرقی کشور افتتاح می نمائیم. افتتاح فعالیت های شرکت به ما کمک می نماید تا در بخش تولید و عرضه گوشت مرغ، تخم مرغ، تولید مواد خوراکه و پرورش انواع محصولات گوشتی طیور به خودکفائی برسیم و بخش از تقاضای بازار را از این رهگذر اشباع سازیم.

ما در تلاش استیم تا در اینده های نزدیک فعالیت های شرکت افغان طیور را در تمامی زون های کشور گسترش دهیم. هدف ما آنست تا از طریق انکشاف توسعه فعالیت های این شرکت خدمات جامع، از پرورش و جوجه کشی گرفته تا فرمولاسیون و پروسس خوراکه، ارائه محصولات درجه یک به مشتریان در سراسر افغانستان تضمین کند.

با شروع جنگ ها و تحولات در کشور تمام فعالیت های اساسی این شرکت متوقف گردید و این شرکت عملا فعالیت تجارتی نداشت. بعد از تحولات اخیر در کشور برای نخستین بار شرکت فعالیت های تجارتی اش را از سر آغاز کرد.

هم اکنون شرکت در بخش های پرورش و چوچه کشی نژادهای با کیفیت طیور، تولید و تغذیه خوراک حیوانی، حمایت از پرورش طیور، پروسس و بسته بندی، توزیع، صادرات و تحقیق و توسعه آغاز نموده است و هدف آنست که شرکت در همکاری و هماهنگی با مقامات ذیصلاح کشور خدمات معیاری را در عرضه زنجیره تامین نیازهای بازار ارائه نماید و از طریق بکاری گیری سرمایه دورانی خویش فعالیت های اساسی شرکت را گسترش داده و در بخش کاریابی و درآمدزائی به کشور کمک نماید.

## د سوېل لوېدیځ زون د مستوفیتونو مالي برخي کارکوونکو ته انلاین روزنیز پروګرام جوړ سو




د مالیې وزارت د بشري سرچینو ریاست د سوېل لوېدیځ زون (هرات، فراه، نیمروز، غور او بادغیس) مستوفیتونو د مالي برخي کارکوونکو لپاره د مالي مدیریت او د جنسي او نغدي محاسبې د تعلیماتنامې په برخه کې انلاین روزنیز پروګرام جوړ کړ.

په دغه ناسته کې، چې د مالیې وزارت اداري معینیت د کنفرانسونو په تالار کې جوړه سوې وه، د بشري سرچینو رئیس مولوي احمدشاه شاکر په خپلو خبرو کې وویل، موږ تل هڅه کړې، چې د حضوري او غیري حضوري (انلاین) پروګرامونو په جوړولو سره ستاسو (د مالیې وزارت د کارکوونکو) مسلکي ظرفیتونه لوړ کړو. تاسي باید له دغه جوړ سوي پروګرام څخه په ګټې اخیستني خپلي مسلکي وړتیاوي لوړي او خپل مسؤلیتونه په احسن ډول مخته یوسئ، که خپلو مسؤلیتونو ته پام و نه کړئ او خپلي وړتیاوي لوړي نه کړئ، دغه ټولي هڅي، چې ستاسو لپاره ئې ترسره کوو، عبث او بې ګټې تمامېږي.

وروسته بیا مالي او حسابي رئیس احمدشاه احمدزي په خپلو خبرو کې وویل، چې د مالیې وزارت په افغانستان کې تر ټولو باوري اداره او مستوفیتونه په ولایتونو کې د مالیې وزارت استازولي ګڼل کېږي، چې په ولایتونو کې د دولت لګښتونه مدیریت کوي. که غواړئ، چې د مالیې وزارت عزت او ځای خوندي پاته سي؛ نو له دغه زرین فرصت څخه چې تاسو ته برابر سوی ګټه پورته کړئ او خپلو مهارتونو ته پراختیا ورکړئ. د عامه لګښتونو قوانین، د تدارکاتو قوانین او طرزالعملونه په دقت ولولئ.

د یادوني وړ ده، چې دغه روزنیز پروګرام به (پنځو) ورځي دوام وکړي، چې د مالیې وزارت موخي او ستراتیژیک پلانونه، د مالي او حسابي ریاست چاري، د بودیجې جوړښت، د جنسي محاسبې طرزالعملونه، د جنسي محاسبې فورمې او نور اړین موارد به ګډونوالو ته پکښې تشریح سي.

## د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني کارکوونکو زیات شمېر قاچاقي توکي نیولي



د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني کارکوونکو د هلمند ولایت په بېلابېلو سیمو کې (۸۸۱) کارټنه روب، (۷۴۴۰) کیلو ګرامه ګوړه، (۲۳۰۰) کیلو ګرامه چاکلېټ، (۳) عرادې بې اسناده موټر او (۳۱) عرادې جاپاني هنډا موټرسایکلونه نیولي دي.

ذکر سوي توکي په داسي حال کي نیول سوي، چي قاچاق وړونکو غوښتل پر پټو لارو ئې هیواد ته دننه کړي.

یاد نیول سوي توکي د نورو اجراآتو له پاره د نیمروز ګمرک ریاست ته سپارل سوي دي.

SHTAMANI
اوونیزه



# نگاهی بر سرمایه های فکری یک سازمان

محمد افضل الکوزی
مسوول تحلیل و جمع آوری
معلومات ریاست ارتباط و آگاهی عامه


تا قبل از دهه ۱۹٦۰ اقتصاد دانان سرمایه فزیکی و افزایش کمیت نیروی کار را عامل رشد اقتصادی می دانستند. اما امروز حضور انسان و تمایز میان نیروی انسانی به معنی اهمیت یافتن توانایی ها و مهارت ها مطرح گردیده. چنانچه اقتصاد دانان می گویند منابع طبیعی در عمل از معادله حذف گردیده است و داشتن آن راه ثروتمند شدن نمی باشد. داشتن آن نیز مانعی به سر راه ثروتمند تر شدن نیست. جاپان منابع طبیعی ندارد اما ثروتمند است، آرژانتین منابع طبعی فراوان دارد اما ثروتمند نیست. دنیای پچیده و در حال تغییر و پر از مسائل، نیازمند ذهن های روشن و آگاه است. امروزه مدل جدیدی از دارایی ها در عرصه سازمانی مطرح می شود و به طور کلی دارایی های سازمان به دو دسته تقسیم می شود دارایی ها مشهود و نامشهود، که دارایی های نا مشهود را سرمایه فکری می نامند و ارزیابی ها به سمت ارزیابی دارایی های نا مشهود سرمایه فکری گرایش یافته است که سرمایه فکری را میتوان اساسی ترین دارای یک سازمان دانست وسه جزء اصلی آن که اکثر دانشمندان بر آن اتفاق نظر دارند، عبارت اند از سرمایه انسانی، سرمایه ساختاری (سازمانی) و سرمایه



مشتری می باشد. امروز یکی از مباحث مهم اقتصادی در ده ها اخیر بحث نقش سرمایه انسان در پروسه رشد اقتصادی است از جمله عامل تاثیر گذاری در زمینه اختلاف بین نرخ رشد اقتصادی کشور ها علاوه بر تفاوت در سرمایه فزیکی، اختلاف در به کار گیری استعداد های نیروی انسانی می باشد. در قرن بیست یکم نیز رقابت در صحنه جهانی ابعاد تازه ای یافته وتلاش برای بهبود بهره وری، پایه اصلی این رقابت را تشکیل میدهد و در جهان امروزه انسان به عنوان عنصر اصلی توسعه محسوب می گردد و عامل نیروی انسانی بیش از هر چیز دیگر اهمیت دارد. به طوری که اقتصاد دانان معتقدند آنچه در نهایت خصوصیت روند توسعه اقتصادی و اجتماعی یک کشور را تعیین می کند، بر منابع انسانی آن استوار است و ازین لحاظ منابع انسانی بر سایر منابع نظیر پول یا تکنالوژی برتری دارد که بزگترین مزیت رقابتی کشور ها و سازمانها، داشتن نیروی توانمند است که اهمیت سرمایه انسانی در ارتقای رشد و بهره وری یکی از مهمترین موضوعات است که مورد توجه خاص صاحب نظران علم مدیریت قرار گرفته است. از این لحاظ سرمایه انسانی، تنها سرمایه ای هست با استفاده هر چه بیشتر، کاهش نیافته وبه صورت فزاینده تقویت می شود و جوامع توسعه میا بند که علاوه بر منابع و ذخیره های طبعی و سرمایه های مادی و فزیکی از منابع انسانی قابل توجهی بر خوردار می باشند. در واقع کشور های که به رشد بیشتر اقتصادی نایل آمده اند، نیروی کار تحصیل کرده، ماهر، با کفایت و یک کلام از (سرمایه انسانی) کافی ومناسب بهره مند بوده اند.

# د ماليې وزارت یوه ۱۳ کسیز پلاوي د مالي چارو د هر اړخیزي ارزوني په موخه یو شمېر ولایتونو ته سفر وکړ

د خزاینو لوی ریاست یوه (۱۳) کسیز تخنیکي پلاوي، چې مشري ئې د افغانستان د مالي مدیریت معلوماتي سیستم (افمیس) رئیس ستارالدین معتصم او د محاسباتو رئیس محب الله صاحبزاده کوله، د خپلو ولایتي سفرونو په لړ کې دا ځل کندهار، زابل او روزگان ولایتونو د مستوفیتونو د مالي آمریتونو او د ادارو د مالي چارو څخه له نږدې کتني او ارزوني، د کارکوونکو د روزني، د بې ځایه لګښتونو د کنترول او بیروکراسۍ ختمولو، د مستوفیتونو او ولایتي ادارو ترمنځ د همغږۍ پیاوړي کولو، په اداري چارو کې د روڼتیا رامنځته کولو، د اوږدو پروسو لنډولو، دقیق او پر وخت د حساب ورکولو، د نوي نقدي او جنسي محاسبې د تعلیماتنامې اړوند نظریاتو راټولولو او نورو اړینو مواردو په موخه یادو ولایتونو ته سفر وکړ.



د هغو ناستو په لړ کې، چې په یادو ولایتونو کې ترسره سوې، لومړی د یادو ولایتونو مستوفیانو په ترتیب سره مولوي عبدالرب حنیف نصري، الحاج ملا حکمت الله اخوند او مولوي عتیق الله خالد راغلي پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل، چې موږ له ډېري مودې راهیسي د داسي تخنیکي او مسلکي پلاوي په تمه وو؛ ترڅو د دوی له لاري وکولای سو د مستوفیت هغه برخې، چې ستونزي لري حل او اصلاح کړو. وروسته د یاد پلاوي رئیسانو د مستوفیت د مالي آمریتونو کارکوونکو ته هدایت ورکړ، چې یاد فرصتونه دي غنیمت وشمېري او په مالي او حسابي برخه کې له دغه تخنیکي، مسلکي او عملي پرزینټېشنونو او لارښودونو څخه، چې د پلاوي له لوري وړاندي کېږي اعظمي ګټه پورته کړي او د شرعي قوانینو او مقرراتو په رڼا کې په لګښتونو کې د سپما او له بیت مال څخه د ساتني په برخه کې د ماليې وزارت متحد المالونو او هدایاتو باندي جدي اقدامات وکړي. له هغه وروسته د یادو ولایتونو د مستوفیتونو د محاسبې لویو مدیرانو د مالي چارو د ټولو روانو پروسو په اړه پریزینټېشن وړاندي کړ، چې نیمګړتیاوي او ستونزي ئې د پلاوي له خوا په ګوته سوې. ورپسې د یاد پلاوي د هري څانګې مسئول د خپلو کارونو په اړه پریزینټېشن وړاندي او د ګډونوالو پوښتنو ته ئې ځوابونه ورکړل. د ماليې وزارت تخنیکي کارکوونکو د مستوفیتونو مالي آمریت اړوند ټولو څانګو څخه بیاکتنه وکړه او په هره برخه کې ئې د کار په جریان کې هغوی ته روزنه ورکړه او هغه ستونزي او نیمګړتیاوي ئې له نږدې څخه حل کړې، چې مالي آمریت ورسره مخ وو. همدارنګه د هیواد په کچه لویي ننګوني او ستونزي ئې هم له ځان سره یادداښت کړې، ترڅو د اطلاع رسوني او اړینو پرېکړو په موخه ئې له مرکز سره شریکي کړي. همدارنګه د محاسباتو رئیس یو پرزینټېشن، چې محتوا ئې د ماليې وزارت او د خزاینو لوی ریاست عمده دندي او مسئولیتونه، په ولایتونو کې د مستوفیتونو ارزښت او موقف، په (۱۴۰۱ل) کال کې د ولایتونو لګښتونه او عواید او ضروري او غیر ضروري لګښتونو ول، ګډونوالو ته وړاندي کړ. وروسته د ادارو د رئیسانو پوښتنو ته د قناعت وړ ځوابونه ورکړل سول او ورته و ئې وویل، چې د دوی غوښتني به د اجراآتو په موخه له چارواکو سره شریکي سي. د دولتي ادارو له رئیسانو سره له ګډو ناستو وروسته د ذکر سوو موخو د پلي کولو او د هغوی د ستونزو اوریدو په موخه د مالي او اداري آمرینو سره هم ناستي ترسره سوې، چې په دې برخه کې ګڼ شمېر پوښتني د ګډونوالو له لوري مطرح سوې، چې د یاد پلاوي له خوا قانع کوونکي ځوابونه او اړیني سپارښتني ورته وړاندي سوې او په پای کې دغه ناستي د دعایې په ویلو سره پای ته ورسېدې.

# اعلانات داوطلبی

### د کابل ولایت د (۱٦) مي ناحیې اړوند د (۲) دولتي ملکیتونو د داوطلبۍ خبرتیا!

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ولایت (۱٦ ) مي ناحیې اړوند نساجي بګرامي سره (۲) دولتي ملکیتونه په جلا جلا ډول د داوطلبۍ لپاره اعلان ته وسپاري.

۱- نساجي بګرامي په داخل کې یو باب هنګر سره د شنې ساحې، چې (۹۳۰،۹) متره مربع مساحت لري.

۲- نساجي بګرامي ته مخامخ د (۳۴۷،۷۰) متره مربع په مساحت دولتي ځمکه.

ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چې غواړي نوموړي ملکیتونه په کرایه ونیسي کولای سي، چې خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپریدو څخه وروسته د (۲۱) ورځو په موده کې د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه د اسنادو له ارزوني او لومړني قیمت ته په کتو ترلاسه کړي.

### د کابل ولایت د (۹) مي ناحیې اړوند د (۲۲۱۰) متره مربع دولتي ځمکي د داوطلبۍ خبرتیا!

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ولایت (۹) مي ناحیې اړوند پلچرخي کې د کابل جلال اباد عمومي سړک سره د (۲۲۱۰) متره مربع ځمکه د داوطلبۍ لپاره اعلان ته سپاري. ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چې غواړي نوموړی ملکیت په کرایه ونیسي کولای سي خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپرېدو څخه وروسته د (۲۱) ورځو په موده کې د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه د اسنادو له ارزوني او لومړني قیمت ته په کتو ترلاسه کړي.

### د کابل ولایت د (۹) مي ناحیې اړوند د (۳) دولتي پارکینګونو د داوطلبۍ خبرتیا!

د ماليې وزارت دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ولایت د (۹) مي ناحیې اړوند د ګمرکونو او عوایدو معینیت سره (۳) بابه پارکینګونه په جلا جلا ډول د دواطلبۍ لپاره اعلان ته سپاري.

۱. د ګمرکونو او عوایدو معینیت ته مخامخ یو باب (۳) شمېره د موټرو تم ځای( پارکینګ) چې (۲۲٦۰،۱) متر مربع مساحت لري.

۲. د کابل ګمرک خروجي دروازې ته مخامخ یو باب (۸) شمېره د موټرو تم ځای ( پارکینګ) چې (۱۱۴۳،۱) متر مربع مساحت لري.

۳. د کابل ګمرک خروجي دروازې ته مخامخ یو باب (۹) شمېره د موټرو تم ځای ( پارکینګ) چې (۳۰۵،۲) متره مربع مساحت لري.

ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چې غواړي نوموړي پارکینګونه په کرایه/ اجاره ونیسي کولای سي خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپریدو څخه وروسته د (۱۴) ورځو په موده کې د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه د اسنادو له ارزوني او لومړني قیمت ته په کتو ترلاسه کړي.

### د ماليې وزارت اړوند د (۲) دولتي ملکیتونو د داوطلبۍ خبرتیا!

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ولایت لومړۍ او (۷) مي ناحیو اړوند دوه دولتي ملکیتونه په جلا جلا ډول د داوطلبۍ لپاره اعلان ته سپاري.

۱. د کابل ولایت لومړۍ ناحیې اړوند (۱۴) منزله تعمیر سره اوله شمېره مغازه چې (۴۲،۲۱) متره مربع مساحت لري.

۲. د کابل ولایت (٦) مي ناحیې عمومي سرک ته مخامخ د جنګلک فارم کې (۱۱) کانتینرونه او هوټل، چې (۵۵۰) متره مربع مساحت لري.

ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چې غواړي نوموړي ملکیتونه په کرایه ونیسي کولای سي. چې خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپریدو څخه وروسته د (۲۱) ورځو په موده کې د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپانه د اسنادو له ارزوني او لومړي قیمت ته په کتو تر لاسه کړي.

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي



ویبپاڼه: mof.gov.af
ټویټر: @ Ministry of Finance - Afghanistan
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)



# MoF Approves Decisions of Fourth Session of Tariff Committee of Current Fiscal Year

The decisions of the fourth session or meeting of the Tariff Committee were approved on behalf of the MoF. In the meeting of the Tariff Committee, the following decisions have been made regarding the support of domestic production, trade and government revenues:

1. The customs tariff of dry milk imported in parcel is increased from 5% to 8% that can be implemented in all the customs offices of the country on the 5th of Jadi (26/ December) of current Hijri year.
2. The customs tariff of construction paint is increased from 6.5% to 10% that is applicable in all the customs offices of the country on the 5th of Jadi (26/ December) of current Hijri year.
3. The customs tariff of single-use plastic dishes (SUPDs) is increased from 30% to 40% that can be implemented in all customs offices of the country on the 5th of Jadi (26/ December) of current Hijri year.
4. The customs tariff of carpets, rugs and other floors is increased from 25% to 30% that is applicable in all customs offices of the country on the 5th of Jadi (26/ December) of current Hijri year.
5. The customs tariff for Turkish stoves made for woods and coals is increased from 2.5% to 10% that is applicable in all customs offices of the country on the 5th of Jadi (26/ December) of current Hijri year.
6. The customs tariff of thresher machines is increased from 10% to 16% that can be implemented in all the customs offices of the country on the 5th of Jadi (26/ December) of current Hijri year.
7. The import customs tariff of malt is increased from 20% to 30% that can be implemented in all the customs offices of the country on the 5th of Jadi (26/ December) of current Hijri year. In addition, the seasonal tariff of kino (kinu) that was previously 30% and malt 20%, and its period was set from the first of Qawos to the 29th of the Hoot (22/ November – 19/ March) which the customs seasonal tariff of both mentioned fruits is increased to 40% and can be implemented in all customs offices of the country from now on.





8. The customs tariff of synthetic cotton is increased from 2.5% to 8% that can be implemented in all the customs offices of the country on the 5th of Jadi (26/ December) of current Hijri year. Also, the seasonal customs tariff of synthetic and natural cotton, which its period is valid from 15th Mizan to 29th of Aqrab (7/ October – 20/ November) is increased from 8% to 16%.

# MoF Introduces Deputy Ministers of DM for Administration, DM for Policy

On the basis of the order of His Highness Amirul Momineen (may Allah protect him), new deputy ministers of DM for Administration and DM for Policy of the Ministry of Finance (MoF) were introduce officially on behalf of the Deputy Director of AOP for the Coordination of Administrative Affairs of the Emirate, Honorable Maulawi Saifuddin Taeb, which the esteemed minister of Finance Alhaj Mullah Muhammad Naser Akhund and a number of other senior officials were present. Alhaj Engineer Sultan Muhammad Zubair, who previously served as the General Directorate of Chief of Staff of Mof, was introduced as Deputy Minister for Policy and Mufti Abdul Samad Haqqani, who was previously the Director of the legal counsel was introduced as the Deputy Minister for Administration. In this regard, the meeting held at the Khyber Salon of MoF began with the recitation of several verses of the Holy Qur'an and later, Deputy Director of AOP for the Coordination of Administrative Affairs of the Emirate, said: "Based on the order of His Highness Amirul Momineen, two Directors of the MoF, who have good work experience, were appointed as the Deputy Ministers of Administrative and Policy Affairs for this Ministry". All decisions in the government are made on the basis of seeing of need or necessity, administrative expediency, with full accuracy and complete independence for the benefit of the government and the people, added Mr. Taeb. Finance Minister, Alhaj Mullah Muhammad Naser Akhund said that responsibility is not a privilege rather than a heavy burden; therefore, instead of being happy for getting this position, it's supposed to demand help from Almighty Allah. Minister of Finance added: "MoF executes the salaries of a million and 45 thousand citizens, which is a heavy responsibility, and all employees must carry out their duties with full sincerity and trust, so it may cause of the satisfaction of both the nation and Almighty Allah". Maulawi Hamdullah Zahid, the former Deputy Minister of DM for Administration, called the changes of individuals in the governmental bodies significant in creating a stable agency, and he also insisted on giving priority to national interests instead of personal interests. Mr. Zahid explained that as a younger brother, he will be ready to cooperate with the new officials in the relevant field at any time and with complete sincerity. Alhaj Engineer Sultan Muhammad Zubair, the new Deputy Minister for Policy of MoF, while expressing his gratitude for the responsibility given to him by the leadership of IEA, said that being appointed as Deputy Minister for Policy is not a privilege, but a great responsibility. Mr. Zubair emphasized that he will try with all his strength and sincerity to carry out the assigned responsibility in a good way, and in this regard, he sincerely requested the sharing of positive attitudes or views, support and cooperation from all the responsible and technical workers. "As a Deputy Minister for Policy, one of the priorities will be to establish a clear policy balance with all the sectorial ministries and I will take necessary measures in this regard", Mr. Zubair added. Deputy Minister for Administration, Mufti Abdul Samad Haqqani, who was appointed for the administrative post, besides explaining the high importance of the MoF in the government, said that the change of individuals in the administration is a principle that this principle causes further development of the bodies. Mr. Haqqani added that he will carry out the assigned responsibility with full trust and asked all the responsible people for support and constructive cooperation in this regard. The meeting ended with dua by the Director of National Olympic Committee, Maulawi Ahmadullah Wasiq.




## Mobile Surveillance Staff of General Directorate of Customs Seizes Gobs of Contrabands



The mobile surveillance staff of the General Directorate of Customs seized 881 cartons of tomato paste, 7440kg of jaggery, 2300kg of chocolate, three undocumented cars and 31 Japanese Honda motorcycles in different areas of Helmand province. The mentioned contrabands were seized while the smugglers were smuggling them into the country. The contrabands have been submitted to the Directorate of Nimroz Customs.